لغة البشتو

إدارة أوقاف
صالح عبدالعزيز الراجحي

الأصول الثلاثة

(د اسلام دري اساسي اصول)

ليكنه

شيخ محمد بن عبد الوهاب
(رحمت الله عليه)

ژباړنه

عبد النافع زُلال

طبع على نفقة إدارة أوقاف
صالح بن عبدالعزيز الراجحي
غفر الله له ولوالديه ولذريته ولجميع المسلمين
www.rajhiawqaf.org

Download from: www.aghalibrary.com

يهدى ولا يباع

الأصول الثلاثة

(د اسلام دري اساسي اصول)

ليکنه

شيخ محمد بن عبد الوهاب

(رحمت الله عليه)

ژباړنه

عبد النافع زُلال

Download from: www.aghalibrary.com

ح وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد، ١٤٢٤هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

محمد بن عبد الوهاب بن سليمان

الأصول الثلاثة . / محمد بن عبد الوهاب بن سليمان .- الرياض، ١٤٢٤هـ.

٤٨ ص ، ١٢ × ١٧ سم

ردمك : ٧-٤٤٤-٢٩-٩٩٦٠

(النص باللغة البشتو)

١- العقيدة الإسلامية ٢- التوحيد أ- العنوان

ديوي ٢٤٠ ١٤٢٤/٥٩٢١

رقم الإيداع : ١٤٢٤/٥٩٢١

ردمك : ٧-٤٤٤-٢٩-٩٩٦٠

Download from: www.aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

پوه شه -الله دي په تا رحم وکړي- چي په مونږ د څلورو مسائلو زده کړه فرض ده:

لمړی: علم او پوهه، او هغه دا چي الله ﷻ، او دهغه پیغمبر ﷺ، او اسلام په دلایلو سره وپيژنو.

دوهم: په هغه عمل کول.

دریم: هغه ته دعوت کول (رابلل).

څلورم: د هغه په تکلیفونو باندي صبر کول.

او دلیل یې د الله ﷻ دا قول دی چي فرمایي: بِسْمِ اللّـــه الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿وَالْعَصْرِ * إِنَّ الإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ * إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴾ [د العصر سورت: ۱-۳ آیتونه]

ترجمه: په نامه د الله چي ډیر زیات مهربان او پوره رحم لرونکی دی (شروع کوم). قسم په زمانه، بیشکه انسان په زیان کښې دی، پرته له هغو کسانو چي ایمان یې راوړ او نیك عمل یې تر سره کړ، او یو بل ته یې دحق سپارښت

Download from: www.aghalibrary.com

(وصيت) وکړ، او يو بل ته يې دصبر او ثبات سپارښت وکړ.

امام شافعي رحمت الله عليه ويلي دي: «که چيري الله ﷻ د خلکو لپاره ددغه سورت څخه پرته بل څه د حجت او دليل په توګه نه واى ليږلي، نو (دا به) دوى لره بس وو».

بخاري رحمت الله عليه ويلي دي: باب دى ددې خبري چي علم له عمل څخه مخکي دى[1].

او دليل يې د الله ﷻ دا قول دى چي فرمايي: ﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ﴾ [د محمد سورت: ۱۹ آيت]

ترجمه: نو پوه شه چي بيشکه له الله څخه پرته بل دعبادت وړ معبود نشته، او دخپلي ګناه بخښنه وغواړه.

نو علم يې مخکي له قول (وينا) او عمل څخه ذکر کړ.

* * *

پوه شه -الله دي په تا رحم وکړي- چي پر هر مسلمان نر او ښځي ددا دريو مسائلو زده کول او په هغي عمل کول

---

(۱) صحيح البخاري ۲۲/۱ کتاب العلم.

Download from: www.aghalibrary.com

فرض دي:

لمړی: دا چې الله ﷻ مونږ پيدا کړي يو، او رزق يې راکړی دی، او خوشي (هسي) يې نه يو پرې ايښي، بلکه مونږ ته يې پيغمبر رااستولی دی، نو څوك چې دهغه پيروي او اطاعت وکړي جنت ته به ولاړ شي، او څوك چې دهغه نافرماني وکړي دوزخ ته به ولاړ شي.

ددې خبرې دليل دالله ﷻ دا قول دی چې فرمايي: ﴿إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولاً شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَى فِرْعَوْنَ رَسُولاً * فَعَصَى فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا وَبِيلاً﴾[د المزمل سورت: ١٥، ١٦ آيتونه].

ترجمه: (ای خلکو) بيشکه تاسي لره مونږ (داسي) يو پيغمبر ليږلی دی، چې پر تاسي باندي شاهد دی، لکه چې مو فرعون ته يو پيغمبر ليږلی وو، خو فرعون دهغه پيغمبر نافرماني وکړه، نو له همدي کبله مو هغه ډير سخت ونيوه.

دوهم: دا چې الله ﷻ دا نه خوښوي چې دهغه سره په عبادت کي څوك شريك ونيول شي، که دا شريك الله ته

Download from: www.aghalibrary.com

نژدې ملائکه (پرښته) وي او که دالله دجانبه استول شوی نبي وي.

ددې خبرې دليل د الله ﷻ دا قول دی چې فرمايي:

﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾ [د الجن سورت: ١٨ آيت]

ترجمه: او جوماتونه خاص خدای لره دي، نو دخدای سره بل هيڅوك مه بولئ.

دريم: څوك چې دپيغمبر ﷺ اطاعت او پيروي وكړي، او په يو خدای ﷻ ايمان راوړي، نو هغه ته روا نه دي چې دهغه چا سره دوستي او محبت وكړي چې دالله ﷻ او دهغه دپيغمبر دښمن وي، كه څه هم ډير نژدې دوست او خپل يې هم وي.

ددې خبرې دليل د الله ﷻ دا قول دی چې فرمايي:

﴿لاَ تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُوْلَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ

Download from: www.aghalibrary.com

اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُوْلَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلاَ إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [دالمجادله سورت: ۲۲ آیت]

ترجمه: داسي خلك به ونه مومې چي (له يوې خوا) په خداى او دآخرت په ورځ ايمان ولري، او (له بلي خوا) له هغو كسانو سره چي دخداى او دهغه دپيغمبر سره شخړه كوي ملگرتيا وكړي، كه څه هم (دغه شخړه كوونكي) ددوى پلرونه يا زامن يا ورونه يا خپلوان وي، همدوى دي چي خداى ددوى په زړونو كښي ايمان ځاى په ځاى (مضبوط) كړى دى، او دوى ته يې له خپل نزد څخه په يوه روح سره قوت وركړى دى، او دوى به په داسي جنتونو كښي داخل كړي چي دهغو (تر ونو) لاندي ويالې بهيږي، او هلته به تل تر تله واوسيږي، خداى له دوى څخه خوشحاله شويدى او دوى (هم) له هغه څخه خوشحاله دي، دوى دخداى گوند (لښكر) دى، پوه شئ چي بيشكه دخداى گوند (لښكر)، همدوى دي بريالي (كامياب).

❋ ❋ ❋

Download from: www.aghalibrary.com

پوه شه -الله ﷻ دي تا خپلي لاري ته هدايت کړي- چي دابراهيم ؑ دين او لاره داده چي يوازي دالله ﷻ عبادت په اخلاص سره وکړې، او په همدې سره الله ﷻ ټولو خلکو ته امر کړی، او د همدې لپاره يې پيدا کړي دي، لکه څنګه چي فرمايي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ﴾ [دالذاريات سورت: ٥٦ آيت]

ترجمه: پيريان او انسانان مي ندي پيدا کړي مګر ددې لپاره چي زما عبادت وکړي.

او د عبادت څخه مراد دالله ﷻ په وحدانيت سره پيژندل دي، او له ټولو لوی کار چي الله ﷻ په هغه سره (بندګانو ته) امر کړی دی هغه توحيد دی، او توحيد دادی چي يوازي ديوه الله ﷻ عبادت وکړې شي، او له ټولو نه لوی کار چي له هغه نه يې (بندګان) منع کړيدي هغه شرک دی، او شرک دادی چي دالله ﷻ سره په عبادت کي بل څوک شريك شي.

ددې خبري دليل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا﴾[دالنساء سورت:

Download from: www.aghalibrary.com

٣٦ آیت]

ترجمه: او دخدای عبادت وکړئ او دهغه سره هیڅ شی مه شریکوئ.

که تا ته ووېل شي: چې هغه درې اصول (اساسي خبري) کومي دي، چې پر انسان يې زده کړه فرض ده؟

نو (په ځواب) کي ورته ووایه: چې هغه دادي: چې بنده خپل پروردګار، خپل دین، او خپل پیغمبر محمد ﷺ وپيژني.

Download from: www.aghalibrary.com

اول اصل

[دخپل پروردګار پيژندل]

کله چي تا ته وويل شي: ستا پروردګار څوك دی؟

نو ووايه: چي زما پروردګار هغه ذات دی چي زه يې پاللی يم، او ټول جهان (عالم) يې په خپل نعمت سره پاللی دی، او هماغه زما معبود (خدای) دی، او پرته له هغه څخه بل معبود نه لرم.

ددې خبري دليل د الله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿الْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [دالفاتحه سورت: ۲ آيت]

ترجمه: ټولي ستايني يوازي الله لره دي، چي دعالميانو پالونکی دی.

او پرته د الله ﷻ څخه نور ټول مخلوقات عالم بلل کيږي، او زه ددې عالم يو جز يم.

کله چي تا ته وويل شي: خپل پروردګار دي په څه سره پيژندلی دی؟

نو ووايه: چي دهغه په نښو او مخلوقاتو سره، او

Download from: www.aghalibrary.com

شپه، ورځ، لمر، او سپوږمۍ دهغه له نښو څخه دي، او اوه آسمانونه، اوه ځمکې او کوم شيان چې په هغې کې دي، او يا د دواړو تر منځ دي، دهغه له مخلوقاتو څخه دي.

ددې خبرې دليل د الله ﷻ دا قول دی چې فرمايي: ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لاَ تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلاَ لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ﴾ [دفصلت سورت: ۳۷ آيت]

ترجمه: او دهغه له آيتونو (دقدرت ددلائلو) څخه شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، نه لمر ته سجده وکړئ او نه (هم) سپوږمۍ ته، (بلکه) هغه خدای ته سجده وکړئ چې هغوی يې پيدا کړي دي، که تاسې يوازې دهغه عبادت کوئ.

او دا قول چې فرمايي: ﴿إِنَّ رَبَّكُمُ اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللّهُ رَبُّ

Download from: www.aghalibrary.com

الْعَالَمِينَ﴾ [دالاعراف سورت: ٥٤ آیت]

ترجمه: بیشکه چي ستاسي پروردګار هغه الله دی چي آسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کښي پیدا کړل، او بیا یې پر عرش باندي استواء وکړه، شپه لکه پردې غوندي پر ورځ باندي غوړوي، هره یوه په تلوار سره بله طلبوي، او لمر، سپوږمۍ او ستوري یې چي دهغه تر فرمان لاندي دي (پیدا کړیدي)، هو، پیدا کول او حکم فرمایل خاص هغه لره دي، خدای برکت والا دی، دعالمیانو پروردګار دی.

او د(رب) څخه مراد معبود (دعبادت مستحق) دی، دلیل یې دالله جل جلاله دا قول دی چي فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُواْ رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۞ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ فِرَاشاً وَالسَّمَاء بِنَاء وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ [دالبقره سورت: ۲۱، ۲۲ آیت]

ترجمه: ای خلکو، دخپل پروردګار عبادت وکړئ، هغه (پروردګار) چي تاسي او له تاسي څخه مخکښي

Download from: www.aghalibrary.com

کسان یې پیدا کړي دي، ددې لپاره چې پرهیز ګار شئ، هغه (ذات) چې ځمکه یې تاسي ته فرش او آسمان یې (لکه) چت (غوندي) جوړ کړی او اوبه یې دآسمان څخه رانښکته کړي چې دهغې په وسیله یې ستاسو دروزئ دپاره (هر ډول) میوي ایستلي دي، نو په داسي حالت کښي چې (په حقیقت) پوهیږئ له خدای سره شریکان مه ګرځوئ.

ابن کثیر رحمت الله علیه وایي: «هغه ذات چې ددې شیانو خالق او پیداکونکی دی، هماغه دعبادت وړ دی»(۱).

او د عبادتونو ټول هغه انواع او قسمونه چې الله ﷻ پرې امر کړی دی، لکه: اسلام، ایمان، احسان، دعا، ویره، امید، توکل، (دالله څخه) دثواب طمع لرل، او د

(۱) ابن کثیر دنومړو دوو آیتونو دذکر کولو څخه وروسته وایي: «ددې آیتونو مضمون دادی: چې الله ﷻ خالق، رازق، ددنیا او دهغه داوسیدونکو مالك او رازق دی، نو ځکه خو ددې لائق دی چې یوازي دهغه عبادت وشي، او بل څوك ورسره شریك ونه ګڼل شي، الله ﷻ فرمایي: ﴿فَلاَ تَجْعَلُواْ لِلّهِ أَندَاداً وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ [دالبقره سورت: ۲۲ آیت] ترجمه: نو پداسي حال کي چې (په حقیقت پوهیږئ) له خدای سره شریکان مه ګرځوئ.
دابن کثیر تفسیر ۱/۵۵ دي وکتل شي.

Download from: www.aghalibrary.com

عذاب څخه يې ويريدل، خشوع، (دالله ﷻ) ويره په زړه کې ساتل، رجوع کول، مرسته او مدد غوښتل، پناه غوښتل، فرياد کول، ذبح (حلاله) کول، نذر کول، او داسې نور هغه عبادات چې الله ﷻ پرې امر کړی دی ټول خاص الله ﷻ لره دي.

ددې خبرې دليل دالله ﷻ دا قول دی چې فرمايي:
﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾ [دالجن سورت: ١٨ آيت]

ترجمه: او جوماتونه خاص خدای لره دي، نو دهغه سره بل هيڅوك مه بولئ.

نو څوك چې لدې عبادتونو څخه څه شی دالله ﷻ څخه پرته بل چا لره وکړي، هغه مشرك او كافر ګڼل كيږي، او دليل يې دالله ﷻ دا قول دی چې فرمايي:
﴿وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ لاَ بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ إِنَّهُ لاَ يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ﴾[دالمومنون سورت: ١١٧ آيت]

ترجمه: او هر څوك چې له خدای سره بل معبود وبولي، او (حال دا چې په ښکاره توګه) دخيل دغه كار

Download from: www.aghalibrary.com

دپاره دلیل نلري، نو بیشکه چي دهغه حساب دهغه له پروردګار سره دی، او بیشکه کافران (هیڅکله) نه بریالي کیږي.

او دا حدیث: «الدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ»(۱).

ترجمه: دعا دعبادت مازغه (روح او جوهر) دی(۲).

او دالله ﷻ دا قول دی چي فرمایي: ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ

(۱) ترمذي په کتاب الدعاء ۴۵۶/۵ (۳۳۷۱) نمبر حدیث سره روایت کړی او ویلي یي دي: چي دا حدیث غریب دی، په دغه لفظ سره یوازي ابن لهیعه روایت کړی دی، او البانی هم هغه ضعیف بللی دی، دالباني تعلیقات پر مشکات باندي (۲۲۳۱) نمبر حدیث، او ضعیف الجامع (۳۰۰۳) نمبر حدیث دي وکتل شي.
او لدي ښخه غوره حدیث هغه حدیث دی چي خپله ترمذي دنعمان بن بشیر ښخه مرفوع روایت کړیدی او الفاظ یې دادي: «الدعاء هو العبادة» یعني: دعاء خپله عبادت دی.
ترمذي ۴۵۶/۵ کتاب الدعاء (۳۳۷۲) نمبر حدیث دي وکتل شي، او ترمذي ویلي دي: دا حدیث حسن او صحیح دی.
او همدارنګه دا حدیث ابوداود په کتاب الصلاة ۷۶/۲ (۱۴۷۹) نمبر حدیث سره، او ابن ماجه په کتاب الدعاء ۱۲۵۸/۲ (۳۸۲۸) نمبر حدیث سره هم روایت کړیدی.

(۲) ددې حدیث مطلب دادی: چي دعا دعبادت یو لوی رکن، او دهغې روح او جوهر دی، ځکه انسان هله الله ﷻ ته دعا کوي چي دمخلوقاتو ښخه یې امید قطع شي، او دا دتوحید، اخلاص او عبادت له ټولو ښخه لویه درجه ده چي انسان په بشپړ اخلاص او کامله توجه سره الله ﷻ ته دعا وکړي.(ژباړونکی)

Download from: www.aghalibrary.com

ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [دغافر سورت: ٦٠ آيت]

ترجمه: او ستاسي پروردګار وويل: زما عبادت وکړئ تر څو چي ستاسي (غوښتني) قبولي کړم (ومنم)، بيشکه هغه کسان چي زما له عبادت څخه تکبر کوي، هرومرو به په خواري (او سپکتيا) سره دوزخ ته ننوځي.

دالله ﷻ څخه دويريدلو دليل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿فَلاَ تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ [دآل عمران سورت: ۱۷۵ آيت]

ترجمه: ددوی څخه مه ويريږئ، او زما څخه وويريږئ که ايمان لرئ.

دالله ﷻ رحمت داميد ساتلو دليل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاء رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾ [دالكهف سورت: ۱۱۰ آيت]

ترجمه: نو هر څوك چي دخپل پروردګار دليدلو هيله لري نو بنايي چي نيك عمل وکړي او هيڅوك دخپل پروردګار په عبادت کښي شريك نکړي.

Download from: www.aghalibrary.com

پر الله ﷻ دتوکل کولو دلیل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿وَعَلَى اللّهِ فَتَوَكَّلُواْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ [دالمائده سورت: ۲۳ آیت]

ترجمه: او پر خدای توکل وکړئ که تاسي ایمان لرونکي یاست.

او دا قول چي فرمايي: ﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾ [دالطلاق سورت: ۳ آیت]

ترجمه: او هر څوك چي پر خدای باندي توکل وکړي، همدی (خدای) ورته بس او کافي دی.

دالله ﷻ ثواب ته دامید لرلو، او دهغه دعذاب څخه دویریدلو، او هغه ته دخشوع کولو دلیل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ﴾[دالانبیاء سورت: ۹۰ آیت]

ترجمه: بیشکه چي دوی (داسي خلك) وو چي په نیکیو او دخیر په کارونو کښي یو له بل څخه وړاندي کیدل، او مونږ به یې (زمونږ دمرحمت څخه دبر خور کیدو

Download from: www.aghalibrary.com

په هيله) او (زمونږ دعذاب) له ويرې بللو، او يوازي مونږ ته تواضع کونکي وو.

(په زړه کي دالله ﷻ نه دويري لرلو دليل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿فَـلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي﴾ [دالبقره سورت: ۱۵۰ آيت]

ترجمه: نو له هغوی څخه مه ويريږئ، او له ما څخه وويريږئ.

(الله ﷻ ته) درجوع کولو دليل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ﴾ [دالزمر سورت: ٥٤ آيت]

ترجمه: او خپل پروردګار ته رجوع وکړئ او هغه ته غاړه کيږدئ.

(دالله ﷻ څخه) دمرستي او مدد غوښتلو دليل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿إِيَّـاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [دالفاتحه سورت: ٥ آيت]

ترجمه: يوازي ستا عبادت کوو، او يوازي ستا څخه مرسته غواړو.

Download from: www.aghalibrary.com

او دا حديث: «إِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ»(۱).

ترجمه: کله چې مرسته او مدد غواړې نو دالله ﷻ څخه يې وغواړه.

(دالله ﷻ څخه) دپناه غوښتلو دليل دالله ﷻ دا قول دی چې فرمايي: ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۞ مَلِكِ النَّاسِ﴾ [دالناس سورت: ۱ آيت]

ترجمه: ووايه: پناه غواړم دخلکو په پروردګار.

(الله ﷻ ته) دفرياد کولو دليل دالله ﷻ دا قول دی چې فرمايي: ﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ﴾[دالانفال سورت: ۹ آيت]

---

(۱) دا دپيغمبر ﷺ دهغه وصيت يو جز دی چې ابن عباس رضي الله عنهما ته يې کړی وو، او پيغمبر ﷺ په هغه کې ابن عباس ته داسي فرمايلي دي: اې هلکه، زه تاته دا څو خبري ښايم: چې دالله ﷻ داحکامو حفاظت وکړه، نو هغه به ستا حفاظت وکړي، او دالله ﷻ داحکامو حفاظت وکړه، نو الله ﷻ به هميشه (ستا دمدد دپاره) ستا په وړاندي وي، او کله چې سوال کوې، نو دالله ﷺ څخه سوال وکړه، او کله چې مرسته غواړې، نو دالله ﷻ څخه يې وغواړه...
دا حديث ترمذي ۶۶۷/۴ په کتاب صفة القيامة (۲۵۱۶) نمبر حديث، او احمد په مسند کې ۲۹۳/۱، ۳۰۷ نمبر حديث سره روايت کړی دی، او ترمذي ويلي دي: چې دا حديث حسن او صحيح دی.

Download from: www.aghalibrary.com

ترجمه: هغه وخت یاد کړئ کله مو چي دخپل پروردګار څخه مرسته غوښتله، نو هغه ستاسي (غوښتنه) ومنله.

الله ﷻ ته دذبح (حلاله) کولو دلیل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمایي: ﴿قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴾ [دالانعام سورت: ۱٦۳-۱٦٤ آیتونه]

ترجمه: ووایه بیشکه زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوندون او زما مرګ (ټول) الله لره دي چي پروردګار دعالمیانو دی. هیڅ شریك ده لره نشته، او په همدې (توحید) باندي زه مامور شوی یم، او زه لومړی دمسلمانانو څخه یم.

او دا حدیث: «لَعَنَ اللهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللهِ»[1].

ترجمه: الله ﷻ په هغه چا لعنت کړی دی چي دالله څخه پرته بل چا ته ذبح (حلاله) کوي.

---

(۱) دا حدیث مسلم (دنووي شرح ۱۲۲/۱۳، ۱۲۳) په کتاب الأضاحي کي په (۱۹۷۸) [۴۳، ۴۴، ۴۵] نمبر سره روایت کړیدی.

Download from: www.aghalibrary.com

(الله ﷻ) تـه دنـذر کولـو دلیـل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايـي: ﴿يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا﴾

[دالانسان سورت: ۷ آيت]

تـرجمه: دوی (خـپل) نذرونـه تـر سـره کـوي، او دهغـي ورځي څخه ويريږي چي شر يې چاپيرونکی او ښکاره دی.

Download from: www.aghalibrary.com

دوهم اصل

داسلام دين په دلائلو سره پېژندل

داسلام دين دادی چي (بنده) يوازي الله ﷻ ته دهغه په وحدانيت په منلو تسليم شي، او دهغه اطاعت او بنده ګي وکړي، او دشرك او مشركينو څخه براءت او بيزاري وکړي.

داسلام دين دري درجې لري: اسلام، ايمان، او احسان، او دا هره درجه څو اركان لري.

اوله درجه: [اسلام]

داسلام پنځه اركان دي:

۱- دا ګواهي (شهادت) وركول چي پرته دالله ﷻ څخه بل دعبادت وړ معبود نشته، او محمد ﷺ دالله ﷻ پيغمبر دی. ۲- لمونځ كول. ۳- زكات وركول. ۴- روژه نيول. ۵- او دبيت الله حج كول.

دالله ﷻ دوحدانيت دليل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ

Download from: www.aghalibrary.com

الْعِلْـمِ قَآئِمَـاً بِالْقِسْطِ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ [دآل عمران سورت: ۱۸ آیت]

تـرجمه: خـدای او پرښـتو او دعلـم خـاوندانو پـه دې شاهدي ورکړې چي بیشـکه شان دادی چي پرته له هغه نه بل دعبادت وړ معبود نشـته، پداسي حال کي چي په عدل سـره دټـول عـالم تدبـیرونکی دی، بـیله هغـه څخـه بـل دعبادت وړ معبود نشـته، دستر قـدرت او حکمت خاوند دی.

او د(لا الـه الا الله) معنـا داده: چي پرته دیو الله ﷻ څخه بل دعبادت وړ معبود نشـته.

(لا الــه) پـرته دالله ﷻ څخـه دنـورو ټولـو خدایـانو او معـبودانو نفـي کـوي، او (الا الله) یواځـي هغـه الله ﷻ تـه دعبادت کولو اثبات کوي، کوم چي په عبادت او پاچاهی کي هغه لره شریك نشـته.

او ددې خبري وضـاحت او تفسـیر دالله ﷻ پـدې قـول کـي راغلـی دی: ﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاء مِّمَّا تَعْـبُدُونَ ۞ إِلاَّ الَّـذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ۞ وَجَعَلَهَا كَلِمَةً

Download from: www.aghalibrary.com

بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ [دالزخرف سورت: ٢٦-٢٨ آيتونه]

ترجمه: او هغه وخت ياد کړه چي ابراهيم عليه السلام خپل پلار او خپل قوم ته وويل: بيشکه زه دهغه څه نه بيزار يم چي تاسي يې عبادت کوئ. پرته له هغه ذات نه چي زه يې پيدا کړی يم او هغه به ما ته بيشکه لاربنودنه وکړي. او هغه دتوحيد کلمه په خپل اولاد کښي پاتي کيدونکې کلمه وګرځوله، چي ګوندي دوی (خدای او دهغه توحيد) ته بيرته راوګرځي.

او پدې قول کي چي فرمايي: ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْاْ إِلَى كَلَمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضاً أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُولُواْ اشْهَدُواْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾ [دآل عمران سورت: ٦٤ آيت]

ترجمه: ووايه: اې دکتاب خاوندانو، هغي خبري ته راشئ چي زمونږ او ستاسي تر منځ شريکه ده (هغه) دا چي بيله خدای څخه دبل شي عبادت ونکړو، او هيڅ شی دهغه سره شريك نکړو او ځيني زمونږ دي دالله څخه پرته ځيني نور دخدايانو په توګه ونه نيسي، نو که دوی

Download from: www.aghalibrary.com

(دکتاب خاوندانو) مخ واړاوه نو تاسي ووايئ: شاهد (او ګواه) اوسئ چي مونږ مسلمانان يو (الله ﷻ ته تسليم يو).

دا چي محمد ﷺ دالله رسول دی، دليل يې دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿لَقَدْ جَاءكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ [دالتوبه سورت: ۱۲۸ آيت]

ترجمه: بيشکه چي تاسي ته يو پيغمبر ستاسي له خپل (منځ) نه راغلی دی، ستاسي ربړونه او تکليف ورباندي ډير ګران دي، ستاسي (دخير لپاره) ډير حرصناک دی، او پر مؤمنانو باندي مشفق (شفقت والا) او مهربان دی.

او دمحمد ﷺ په پيغمبري او رسالت سره داقرار کولو او ګواهي ورکولو معنا داده: چي دهغه داوامرو اطاعت وشي، اود خبرو تصديق يې وشي، او دکومو شيانو څخه چي يې منع کړيده، دهغو څخه پرهيز او ځان وژغورل شي، او يوازي دهغه دسنت او طريقې مطابق دالله ﷻ عبادت وشي.

Download from: www.aghalibrary.com

دلمانځه، زكات، او دتوحيد دتفسير دليل دالله ﷻ دا قول دى چي فرمايي: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاء وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾ [دالبينه سورت: ٥ آيت]

ترجمه: او (پداسي حال كښي) چي دوى ګمارل شوي ندي مګر دا چي په زښت اخلاص سره دخداى عبادت وكړي (او عقيده لري) چي دين دهغه (لخوا) دى، او په عين حال كښي له هر ډول انحراف څخه ليري وي، لمونځ (دهغه له ټولو آدابو سره) اداء كړي، زكات وركړي، او همدا صحيح او ټينګ (مضبوط) دين دى (چي هغه اسلام دى).

دروژې نيولو دليل دالله ﷻ دا قول دى چي فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [دالبقره سورت: ۱۸۳ آيت]

ترجمه: اى مؤمنانو، روژه پر تاسي باندي فرض كړې شوې ده لكه چي په هغو كسانو باندي چي له تاسي څخه پخوا وو، فرض كړې شوې وه، بنايي چي تاسو پرهيزګار

Download from: www.aghalibrary.com

شئ.

دحج كولو دليل دالله ﷻ دا قول دى چي فرمايي:

﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ﴾ [دآل عمران سورت: ۹۷ آيت]

ترجمه: دخداى دپاره پر خلكو باندي دبيت الله حج (فرض) دى، په هغه چا باندي چي هغه ته دتلو توان لري، او څوك چي كافر شي نو بيشكه چي خداى له ټولو عالميانو څخه بې پروا دى.

دوهمه درجه: ايمان:

ايمان څه دپاسه اويا (۷۰) څانګي (برخي) لري، له ټولو څخه اوچت او لوړه يې: د(لااله الاالله) ويل دي، او له ټولو څخه وړوكې (كوچنى) يې دلاري څخه دضرر دشي ليري كول دي، او حياء دايمان يوه برخه ده[۱].

دايمان شپږ ركنونه دي: په الله ﷻ ايمان راوړل، او

(۱) دا حديث بخاري ۱۰/۱ په كتاب الإيمان كي په دغه الفاظو «بضع وستون» يعني: څه دپاسه شپيته، او مسلم (دنووي شرح ۲۰۲/۲) په كتاب الإيمان كي په (۳۵) [۵۷، ۵۸] نمبر سره روايت كړيدى.

Download from: www.aghalibrary.com

دالله ﷻ پــه ملائکــو (پرښــتو)، کــتابونو، پیغمــبرانو، دقیامـت پـه ورځ، او دخیر او شـر پـه قضـا او قـدر ایمـان راوړل.

ددې شــپږو رکــنونو دلــیل دالله ﷻ دا قــول دی چــي فرمایـي: ﴿لَّـيْسَ الْـبِرَّ أَن تُوَلُّــواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَـكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَالْمَلآئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ﴾ [دالبقره سورت: ۱۷۷ آیت]

ترجمه: نیکـي (یـوازي) دا نـده چـي خـپل مخونـه ختیـځ او لویدیـځ لـوري تـه واړوئ، بلکه (غوره) نیکي دهغه چا ده چي پـه خـدای، دآخـرت پـه ورځ، (پـه ټولو) پرښتو، (پـه ټولو) کـتابونو، او (پـه ټولـو) پیغمـبرانو بـاندي یـې ایمـان راوړی دی.

دقضـا او قـدر دلـیل دالله ﷻ دا قـول دی چي فرمایي: ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴾ [دالقمر سورت: ٤٩ آیت]

ترجمه: بیشـکه مونږ هر شی په اندازه پیدا کړی دی.

دریمه درجه: احسان:

احســان یــو رکــن لــري، او هغــه دادی: چــي دالله ﷻ

Download from: www.aghalibrary.com

داسي عبادت وکړې لکه چي ته هغه وينې، که يې ته نه وينې نو هغه خو تا ويني.

ددې خبري دليل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمايي: ﴿إِنَّ اللّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَواْ وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ﴾ [دالنحل سورت: ۱۲۸ آيت]

ترجمه: بيشکه الله له پرهيزګارانو او نيکوکارانو سره دی.

او دا قول: ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ۞ الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ ۞ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ ۞ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ [دالشعراء سورت: ۲۱۷-۲۲۰ آيتونه]

ترجمه: او په (هغه ذات) توکل وکړه چي دستر قدرت خاوند (او) مهربان دی. هغه (ذات) چي تا ويني کله چي (دعبادت دپاره) راپاخيږې. او (هم) دسجده کوونکو په منځ کښي ستا حرکتونه. بيشکه چي همدغه (خدای) دی اوريدونکی (او) پوه (دعلم خاوند).

او دا قول چي فرمايي: ﴿وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِن قُرْآنٍ وَلاَ تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلاَّ كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ

Download from: www.aghalibrary.com

تُفِيضُونَ فِيهِ﴾ [ديونس سورت: ٦١ آيت]

ترجمه: او په هيڅ کوم کار (يا کوم فکر مشغول) نه يې، او دهغه څخه دقرآن دهيڅ يو (آيت) تلاوت نه کوې او (تاسي) هيڅ کوم کار نکوئ پرته لدې کله چي په هغه کښي بوخت کيږي (نو) مونږ پر تاسي باندي شاهدان (ګواهان) يو.

او داحاديثو څخه يې دليل دجبريل هغه مشهور حديث دى چي عمر بن خطاب ﷺ روايت کړى دى، چي وايي: «بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ[(١)] شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ، شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ، لا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ، وَلا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ، حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ، وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، أَخْبِرْنِي عَنْ الإِسْلامِ، فَقَالَ: أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَتُقِيمَ الصَّلاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ،

---

(١) دا الفاظ په صحيح مسلم کي نشته، او دصحيح مسلم دحديث الفاظ داسي دي: «بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ...». صحيح مسلم کتاب الإيمان (٨) [١] نمبر حديث.(ژباړونکى)

Download from: www.aghalibrary.com

وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ، إِنْ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلا، قَالَ: صَدَقْتَ، فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ، قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ الإِيمَانِ، قَالَ: أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ، وَمَلائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ، قَالَ: صَدَقْتَ، قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ الإِحْسَانِ، قَالَ: أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ، قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ السَّاعَةِ، قَالَ: مَا الْمَسْؤُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنْ السَّائِلِ، قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَاتِهَا، قَالَ: أَنْ تَلِدَ الأَمَةُ رَبَّتَهَا، وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ، قَالَ: فَمَضَى، فَلَبِثْنَا مَلِيًّا، فَقَالَ: يَا عُمَرُ، أَتَدْرِي مَنْ السَّائِلُ؟ قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: هَذَا جِبْرِيلُ، أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ أَمْرَ دِينِكُمْ»(١).

ترجمه: پداسي حال کي چي مونږ دپيغمبر ﷺ سره ناست وو چي يو داسي سړی راغی چي تکي سپيني جامې او تک تور ويښته يې وه، او دسفر نښې وربانديي نه ليدل

---

(١) دجبرائيل حديث مسلم پوره په کتاب الإيمان کي په (٨) [١] نمبر سره دعمر بن الخطاب ﷺ څخه (دنووي شرح ١٢٦/١-١٣٣)، او بخاري په مختصر ډول دابو هريره ﷺ څخه روايت کړيدی.

Download from: www.aghalibrary.com

کیدې، او نه هم له مونږ څخه چا پیژانده، نو د پیغمبر ﷺ مخې ته کیناست، او خپل ځنګنونه یې د پیغمبر ﷺ له ځنګنونو سره ولګول، او لاسونه یې پر ورنونو کیښودل، او ویې ویل: اې محمده، د اسلام څخه مې خبر کړه، (پیغمبر ﷺ) وفرمایل: (اسلام دادی): چې اقرار وکړې (ګواهي ورکړې) چې پرته د الله ﷻ څخه بل د عبادت وړ معبود نشته، او محمد ﷺ د الله ﷻ پیغمبر دی، او لمونځ په بنه توګه وکړې، او زکات ورکړې، او د بیت الله حج وکړې که د لارې توان در سره وو، (سړي) وویل: رښتیا دې وویل، نو مونږ تعجب وکړ چې هم پوښتنه ترې کوي، او هم یې تصدیق کوي، (سړي) وویل: د ایمان څخه مې خبر کړه، (پیغمبر ﷺ) وفرمایل: (ایمان دادی) چې په الله ﷻ، او د هغه په ملائکو، کتابونو، پیغمبرانو، د آخرت په ورځ، او د خیر او شر په قضا او قدر ایمان راوړې، (سړي) وویل: رښتیا دې وویل، نو د احسان څخه مې خبر کړه، (پیغمبر ﷺ) وفرمایل: (احسان دادی) چې د الله ﷻ داسې عبادت وکړې لکه چې ته یې وینې، نو که ته یې نه وینې، نو هغه

Download from: www.aghalibrary.com

خو دي ويني، (سړي) وويل: دقيامت څخه مي خبر کړه، (پيغمبر ﷺ) وفرمايل: څوك چي پوښتني ته ځواب ورکوي له هغه چا څخه چي سوال کوي زيات علم نلري (پدي هکله)، (سړي) وويل: نو دقيامت له نښو څخه مي خبر کړه، (پيغمبر ﷺ) وفرمايل: (دقيامت نښي دادي) چي وينځه خپل بادار وزيږوي، او لوڅي پښي، بربنډ، فقيران دپسونو څروونکي (چوپانان) به ګوري چي دتعميرونو (په جوړولو کي به) يو له بل څخه زيات کوښښ کوي، (راوي) وويل: نو سړی ولاړ، نو څه شانتي کيناستو، او بيا (پيغمبر ﷺ) وفرمايل: چي اې عمره، آيا پوهيږې دا سوال (تپوس) کوونکی څوك وو؟ ما ورته وويل: چي الله او رسول يې ښه پوهيږي، (پيغمبر ﷺ) وفرمايل: دا جبريل وو، راغلی وو چي تاسو ته ستاسو دين وښايي.

Download from: www.aghalibrary.com

دریم اصل

[دخپل پیغمبر محمد ﷺ پيژندل]

ستاسي پيغمبر ﷺ محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم دی، او هاشم دقريشو څخه دی، او قريش دعربو څخه دي، او عرب داسماعيل بن ابراهيم الخليل -عليه وعلى نبينا أفضل الصلاة والسلام- دنسل څخه دی.

دپيغمبر ﷺ عمر دري شپيته (۶۳) کاله وو، چي خلويښت (۴۰) کاله يې دنبوت څخه مخکي او دروېشت (۲۳) کاله يې دنبوت او رسالت په حال کي تير کړي دي.

دنبوت دليل يې د ﴿اقرأ﴾[1] آيت دی، او درسالت دليل يې د ﴿المدثر﴾ آيت دی، داوسيدو ځای يې مکه وه، الله ﷻ (خلکو ته) استولی دی چي دشرك څخه يې وويروي، او توحيد ته يې دعوت کړي.

---

(۱) د الله ﷻ دي قول ته اشاره ده: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴾ [دالعلق سورت: ۱ آيت] ترجمه: ولولـه، دخپل پروردګار په نامه، هغه چي (ټول مخلوق يې) پيدا کړي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

ددې خبرې دليل دالله ﷻ دا قول دی چې فرمايي:
﴿يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ * قُمْ فَأَنذِرْ * وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ * وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ * وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ * وَلاَ تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ * وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾

[دالمدثر سورت: ۱-۷ آيتونه]

ترجمه: اې په ځان باندې دڅادر نغښتونکيه، پاڅيږه (او نړيوال) وويروه، او خپل پروردګار په لويۍ سره ياد کړه، او خپلې جامې پاکې کړه، او له پليتۍ نه ډډه (او پرهيز) وکړه، او (پر چا باندې) منت مه ږده، چې (دهغه څه په مقابل کښې چې ورکړي دې دی) زيات بدل وغواړې، او دخپل پروردګار لپاره صبر وکړه.

او د ﴿قُمْ فَأَنذِرْ﴾ مراد دادی: چې دشرك څخه يې وويروه، او توحيد ته يې دعوت کړه، او د ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾ څخه مراد دادی: چې په توحيد سره (دخپل پروردګار) تعظيم وکړه، او د ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ څخه مراد دادی: چې خپل عملونه دشرك څخه پاك کړه، او د ﴿وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾ مراد دادی: چې دبتانو څخه هجرت وکړه، او دهجرت کولو څخه مراد دبتانو پريښودل او دهغوی څخه او

Download from: www.aghalibrary.com

دهغوی دپیروانو (مشرکینو) څخه بیزاره کیدل دي.

پیمغبر ﷺ لس کاله په همدې شکل سره توحید ته خلك رابلل، او دلسو کلونو وروسته آسمان ته وخیژول شو، او پنځه لمونځونه پرې فرض شول، (او دهغه څخه وروسته یې) درې کاله په مکه کې لمونځ وکړ، او بیا مدینې ته دهجرت کولو امر ورته وشو.

او دهجرت څخه مراد: دشرك دمحیط (ځای یا وطن) څخه داسلام محیط ته تلل دي، او دشرك دمحیط څخه داسلام محیط ته هجرت پر دې امت باندې فرض دی، او هغه به دقیامت تر ورځې پورې باقي وي.

ددې خبرې دلیل دالله ﷻ دا قول دی چې فرمایي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلآئِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُواْ فِيمَ كُنتُمْ قَالُواْ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوَاْ أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُواْ فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءتْ مَصِيرًا ۞ إِلاَّ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ لاَ يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلاَ يَهْتَدُونَ سَبِيلاً ۞ فَأُوْلَئِكَ عَسَى اللّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللّهُ عَفُوًّا غَفُورًا﴾ [دالنساء سورت: ٩٧-٩٩ آیتونه]

Download from: www.aghalibrary.com

ترجمه: بیشکه هغه کسان چي پر خپلو ځانونو یې ظلم کړیدی، ملائکې چي کله ددوی روحونه اخلي، ورته وايي: تاسي په څه حال کښي وئ؟ دوی په ځواب کښي وايي: مونږ دځمکي پر مخ ضعيفان (او مظلومان) وو، ملائکي وايي: آیا دخدای ځمکه پراخه نه وه تر څو چي تاسي پکښي هجرت کړی وای؟ نو ددوی ځای دوزخ دی او بد دورتلو ځای دی دوزخ. خو نا توان نارینه، ښځي او واړه چي نه دکومي وسيلې توان لري او نه کومه لاره پیدا کولای شي. نو داسي خلك هيله ده چي الله ددوی څخه (ددوی دغه ګناهونه) وبخښي، او الله عفوه کوونکی (او بخښونکی) ذات دی.

او دا قول چي فرمايي: ﴿يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ﴾ [دالعنکبوت سورت: ٥٦ آیت]

ترجمه: اې زما (مسلمانانو) بندګانو، بیشکه چي زما ځمکه پراخه (ارته) ده، نو خاص ما لره عبادت وکړئ.

بغوي رحمت الله عليه وايي: «دا آیت دهغه مسلمانانو په هکله نازل شوی دی چي په مکه کي پاتي وو او هجرت

Download from: www.aghalibrary.com

يې نه وو کړی، (الله ﷻ) هغوی ته په ایمان سره خطاب وکړ».

او دحدیثو څخه دهجرت دلیل دپیغمبر ﷺ دا قول دی چي فرمایي: «لاَ تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ، وَلاَ تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا»(١).

ترجمه: تر څو چي دتوبې (ور) نه وي بند شوی، نو دهجرت (حکم) له منځه نه ځي، او تر څو چي لمر له مغرب (لویدیځ) څخه نه وي راختلی، نو دتوبې (ور) نه بندیږي(٢).

او کله چي پیغمبر ﷺ په مدینه منوره کي ځای پر ځای شو، نو داسلام دنورو احکامو امر یې جاري کړ، لکه زکات، روژه، حج، اذان، جهاد، امر بالمعروف، او نهي عن المنکر، او داسي نور شرعي احکام.

---

(١) دا حدیث ابوداود په اول دکتاب الجهاد کي ۳/۳ په (۲۴۷۹) نمبر سره، او احمد په مسند کي ۹۹/۴، او نسائي په السنن الکبری کتاب السیر کي (لکه څنګه چي په تقریب التحفة کي راغلي دي) په (۱۱۴۵۹) نمبر سره دمعاویه ﷺ څخه روایت کړیدی، او الباني په صحیح الجامع (۷۴۳۶) نمبر حدیث کي هغه صحیح بللی دی.

(٢) ددې حدیث څخه مراد دادی: چي دهجرت حکم او روا والی به تر قیامت پوري باقي وي.(ژباړونکی)

Download from: www.aghalibrary.com

او پیغمبر ﷺ په نوموړي شکل سره لس کاله پاتي شو، او له هغه څخه وروسته بیا وفات شو، او دین یې باقي پاتي شو، او دهغه دین دی، داسي دخیر کار نشته چي خپل امت یې هغه ته نه وي رابللی، او نه داسي بد او ناوړه کار شته چي خپل امت یې له هغه څخه نه وي منع کړی.

او کوم دخیر کار چي خپل امت یې هغه ته را بللی دی هغه توحید، او هر هغه څه دي چي الله ﷻ یې خوښوي، او کوم شر چي خپل امت یې له هغه څخه منع کړی او ویرولی دی، هغه شرك، او هر هغه څه دي چي الله ﷻ یې نه خوښوي، او بد یې ګڼي.

الله ﷻ پیمغبر ﷺ ټولو خلکو ته استولی دی، او دهغه اطاعت یې پر ټولو انسانانو او پیریانو فرض کړیدی.

ددې خبري دلیل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمایي: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾ [دالأعراف سورت: ۱۵۸ آیت]

ترجمه: ووایه (ای پیغمبره): اې خلکو بیشکه زه ستاسي دټولو دپاره دخدای پیغمبر یم.

Download from: www.aghalibrary.com

او دپيغمبر ﷺ په ذريعه خداى ﷻ خپل دين تكميل او پوره كړ، او دليل يې دهغه دا قول دى چي فرمايي: ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا﴾ [دالمائده سورت: ٣ آيت]

ترجمه: نن ورځ ما ستاسي دپاره ستاسي دين پوره كړ او پر تاسي باندي مي خپل نعمت تمام كړ، او اسلام مي ستاسي دپاره (د) دين (په توګه) غوره كړ.

او دپيغمبر ﷺ دوفات كيدو دليل دالله ﷻ دا قول دى چي فرمايي: ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ * ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ﴾[د الزمر سورت: ٣٠-٣١ آيتونه]

ترجمه: بيشكه ته مړ كيدونى يې، او دوى (هم) مړ كيدونكي دي. او بيا به بيشكه تاسو دقيامت په ورځ دخپل پروردګار په حضور (دخپلو كړونو په هكله) جګړه وكړئ.

او خلك چي كله مړه شي، نو بيا (دقيامت په ورځ) بيرته ژوندي كيږي، او دليل يې دالله ﷻ دا قول دى چي فرمايي: ﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى﴾ [د طه سورت: ٥٥ آيت]

Download from: www.aghalibrary.com

ترجمه: تاسي مو له دې (خاورې) څخه پيدا کړئ، او په هغې کښې به تاسي ننه باسو، او بيا به تاسي له هغې څخه بل ځل راوباسو.

او دا قول چې فرمايي: ﴿وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الأَرْضِ نَبَاتًا * ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا﴾ [د نوح سورت: ۱۷-۱۸ آيتونه]

ترجمه: او خدای تاسي (دزرغون شوي شي په توګه) له ځمکي څخه پيدا کړي يئ. (او) بيا به تاسي بيرته هلته وګرځوي، او بيا به مو په راويستو سره راوباسي (ژوندي کړي).

او (دقيامت په ورځ) بيرته له ژوندي کيدو وروسته دعملونو حساب ورسره کيږي، او دهغې جزا ورکول کيږي.

ددې خبري دليل دالله ﷻ دا قول دی چې فرمايي: ﴿لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاؤُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى﴾ [د النجم سورت: ۳۱ آيت]

ترجمه: تر څو هغو کسانو ته چې بدي يې وکړه ددوی دکړنو جزا ورکړي، او هغو کسانو ته چې نيکي يې وکړه

Download from: www.aghalibrary.com

ښه بدله ورکړي.

او څوك چې د مرګ څخه وروسته بيا ژوندي کېدو څخه انکار وکړي کافر کېږي، او دليل يې د الله ﷻ دا قول دی چې فرمايي: ﴿زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَن لَّن يُبْعَثُوا قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ وَذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ﴾ [د التغابن سورت: ٧ آيت]

ترجمه: کافران داسې غلط فکر (سوچ) کوي چې هيڅکله به دوی (ژوندي) راپورته نه کړي شي، ووايه: هو، قسم دی زما په پروردګار چې بيشکه تاسې به (ژوندي) راپورته کړي شئ، بيا به دهغه څه نه چې کول مو، خبر کړي شئ، او دا کار الله ﷻ ته آسان دی.

او الله ﷻ ټول پيغمبران ويروونکي او زيرى وركوونكي استولي دي، او دليل يې د الله ﷻ دا قول دی چې فرمايي: ﴿رُسُلاً مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ﴾ [د النساء سورت: ١٦٥ آيت]

ترجمه: داسې پيغمبران چې (هم) زيري ورکونکي او (هم) ويروونکي (دي) ترڅو چې دخلکو سره دپيغمبرانو

Download from: www.aghalibrary.com

(داستولو) څخه وروسته پر خدای باندي کوم دليل نه وي.

دټولو څخه ړومبی پيغمبر نوح عليه السلام دی، او اخيرنی پيغمبر محمد ﷺ دی، چي دټولو پيغمبرانو ختم کوونکی پيغمبر دی.

ددې خبري دليل چي نوح عليه السلام له ټولو څخه ړومبی پيغمبر دی دالله جل جلاله دا قول دی چي فرمايي: ﴿إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ﴾ [د النساء سورت: ١٦٣ آيت]

ترجمه: بيشکه چي مونږ تا ته وحي وکړه، لکه چي نوح او دهغه څخه وروسته پيغمبرانو ته مووحي کړې وه.

دنوح عليه السلام څخه تر محمد ﷺ پوري چي الله جل جلاله هر امت ته پيمغبر استولی دی، هغوی ته يې ديو الله په عبادت سره امر کړي، او دطاغوت(١) دعبادت څخه يې منع کړيدي، او دليل يې دالله جل جلاله دا قول دی چي فرمايي: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ﴾ [د النحل سورت: ٣٦ آيت]

---

(١) طاغوت هر هغه معبود ته ويل کيږي چي د الله جل جلاله څخه پرته يې عبادت وشي، لکه شيطان، بت، مړی او داسي نور.(ژباړونکی)

Download from: www.aghalibrary.com

ترجمه: او بیشکه چي مونږ په هر امت کښي یو رسول (ددغه فرمان سره) ولیږه چي: دخدای عبادت وکړئ او له بتانو څخه ځان وژغورئ.

او الله ﷻ په ټولو بندګانو دا فرض کړیده چي په طاغوت باندي کافر شي (او هغه ونه مني) او په یو الله ﷻ ایمان راوړي، ابن القیم رحمت الله علیه وایي: «له طاغوت څخه مراد هر هغه څوك دی چي بنده یې دشریعت خلاف عبادت، متابعت، او اطاعت وکړي».

او طاغوتان ډیر زیات دي، خو پنځه یې له ټولو څخه لوی دي: ۱- ابلیس ملعون، ۲- هغه څوك چي خلك یې عبادت وکړي او هغه پدې راضي وي، ۳- هغه څوك چي خلك خپل عبادت ته رابولي، ۴- هغه څوك چي د غیبو دعلم دعوا وکړي، ۵- او هغه څوك چي دالله ﷻ ددین څخه پرته په نورو قوانینو حکم او فیصله وکړي.

ددي خبرو دلیل دالله ﷻ دا قول دی چي فرمایي: ﴿لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ لاَ انفِصَامَ لَهَا وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [د البقره سورت: ۲۵٦ آیت]

ترجمه: ددین په (منلو کښي زور نشته، بیشکه چي

Download from: www.aghalibrary.com

سمه لار له ګمراهۍ څخه څرګنده شوې ده، نو هر هغه څوك چي له طاغوت (باطله معبودانو) څخه مخ اړوي او په خدای ايمان راوړي نو بيشکه چي کلکه کړئ يې ټينګه نيولې ده چي هيڅکله هغه لره شکيدل نشته او خدای ښه اوريدونکی (او) ښه پوهيدونکی دی.

او همدا د «لااله الاالله» معنا ده.

او په حديث کي راغلي دي: «رَأْسُ الأَمْـرِ الإِسْـلاَمُ وَعَمُودُهُ الصَّلاَةُ وَذِرْوَةُ سَنَامه الْجِهَادُ»[1].

ترجمه: ددين بنياد اسلام[2] دی، او ستنه يې لمونځ دی، او اوچته (جګه) څوکه يې جهاد دی.

والله أعلم.. وصلى الله على محمد وآله وصحبه وسلم.

(۱) دا حديث ترمذي ۱۲/۵ په کتاب الإيمان کي په (۲۶۱۶) نمبر سره، او ابن ماجه ۱۳۱۴/۲ په کتاب الفتن کي په (۳۹۷۳) نمبر سره، او احمد په مسند کي ۲۳۱/۵، ۲۳۷ دمعاذ بن جبل ﷺ څخه روايت کړيدی، او ترمذي ويلي دي: دا حديث حسن او صحيح دی.

(۲) داسلام څخه مراد دالله په وحدانيت، او دمحمد ﷺ په پيغمبري شاهدي (ګواهي) ويل دي، يعني: (اشهد ان لااله الاالله، واشهد ان محمداً رسول الله) ويل دي.(ژباړونکی)

Download from: www.aghalibrary.com

د موضوعاتو فهرست

موضوع	صفحه

اول اصل: [دخپل پروردگار پيژندل] ۱۰
دوهم اصل: داسلام دين په دلائلو سره پيژندل........ ۲۲
اوله درجه: [اسلام] ۲۲
دوهمه درجه: ايمان: ۲۷
دريمه درجه: احسان: ۲۹
دريم اصل: [دخپل پيغمبر محمد ﷺ پيژندل] ۳۴
دموضوعاتو فهرست ۴۶

Download from: www.aghalibrary.com

الأصول الثلاثة

تأليف

الشيخ محمد بن عبد الوهاب

(رحمه الله)

ترجمة

عبد النافع زلال

بالللغة «البشتو»

Download from: www.aghalibrary.com

إدارة أوقاف
صالح عبدالعزيز الراجحي

الأصول الثلاثة

تأليف

الشيخ محمد بن عبد الوهاب

(رحمه الله)

ترجمة

عبد النافع زلال

باللغة «البشتو»

مطبعة دار طيبة - الرياض - ت: ٤٢٨٣٨٤٠

Download from: www.aghalibrary.com

GIFT NOT FOR SALE